شهسوارسنگروال ۲۰۲۶/۱۰/۰۱

# د غوراصلي اوسېدونکي ،

## (ترکان، پښتانه که تاجکان؟)

## ۴برخه

**پښتون ، افغان اوپښتوژبه ،د تاریخ په اوږدو کې:**

۱ـ جورج ګریرسن د «پښتون» کلمه د لرغونو اریایانو، پخواني کتاب د ریګویدا د پکتاس له کلمې سره پرتله کوي او انګېري چې ادا دواړه کلمې سره یو شی دي. (وګورئ، ګریرسن، جورج، د هند د ژبو سروې، ټوک ۱۰ مخ ۵)
۲ ـعلی اکبر جعفري د ژبپوه مورګن سترن له انده کښلي دي، «چې په ویدي سرودونو کې، د »پرشو کلمه، په اوستا او سنسکرت کې، پرسوانه (پرسو) یا پرشوانه (پرشو)، پرشانه، د اوسني پښتون له نوم سره تړاو لري اوجورج ګریرسن د دې خبرې پخلی هم کړیدی، چې مورګن سترن هغه خبره چې د یوه هندي منجم «وراهه میهیرا» اوګانه اوسنی افغان دی.
جورج ګریرسن د ریګویدا پکتاس (پختاس) یا پکتوس اوسنی پښتون ګڼي، ولي مورګن سترن د دې خبرې مخالف دی.
۳ ـهېروت بیا پکتیوس (پکتیس، پختین، پکتین اوپشتین) یادوي، چې بطلیموس(تاریخي جغرافیه...، ۱۴۱مخ) ،مستربیلو او ګریرسن دغه نومونه له اوسني «پښتون» سره یو شی ګڼي.
)وګورئ د هندي ژبو څېړنې ۵ مخ(
مورګن سترن د هېرودوت د ګنداري،اپریتي، ستاګېدي، دادیکي په لړ کې، اپریتی اوسني اپریدي بولي.
)اسلامي دایرة المعارف لومړی ټوک ۲۱۷ مخ.(
۴ ـمورګن سترن د ژبپوهنې پر بنسټ، تر ډېره بریده د پښتو په ساکي توب ټینګار کوي او ساکان د افغانستان د لرغوني تاریخ یوه برخه ده. ان دا چې پروفیسر «رچارډ فرای» د سیستان (سکستان) نامتو آتل رستم په ختّه ساکا ګڼي . (رچارډفرای، د مېنځنی اسیا میراث، له لرغوني زماني نه د ترکانو تر خپریدا ...۱۹۱ مخ) که څه هم یو شمېر ایراني تاریخپوهان له دې خبرې سره اوږه نه وړي او په دې ټینګار کوي، چې د رستم مور «روتابک = رودابه» له پارس یاني اوسنی ایرانه سیستان ته لیږدېد لې ده!؟ د یوه بل روایت له مخي «رودابه» د کابلشاهانود نامتوپاچا «مهراب شاه» لور ګڼلې کیږي.او لومړی ابو قاسم فردوسی په شهنامه کې د رستم اتلولي ستایلي ده، چې وروسته دغه اتلولي په پهلوي کې هم کښل شویده.
په دغه استوروي تاریخ کې ګڼ شمېر داستاني او افسانوي روایتونه او بیا د ساسانیانو د تولواکمنی تاریخي پېښی نظم شویدي.
عبد العظیم رضایي هم د امني، چې نامتو اتلان له سیستانه پاڅېدلي دي او ډېر نامتو اتلان د «پیشدانیانو» له سلطنتي کورنی چې نژاد یي جمشید ته رسیږي تړاو لري. هغه جمشېد (یما) چې له ضحاک نه وتښتېد او د زابلستان پاچا کورنګ له لور سره یي واده وکړ او په زوی یي د «تور» نوم کېښود، چې له هغه څخه په ترتیب یو د بل پسې یاني له تور نه، شید سپ، له هغه تورک، له تورک نه شم او له ده اثرط (اسرت) اوله ده څخه ګرشاسپ، له ده نه نریمان او له نریمان نه سام سوار، له ده څخه زال او له زال نه رستم وزیږید.» دا چې په ا وستا کې د رستم او د ده د پلار یادونه نده شوي او شهنامه کې چې راغلي دي چې تورانیان یاني افراسیاب له رستم سره جنګیدلی د باور وړ ندی.
(رضایي، تاریخ ده هزار ساله ایران ۴۰ مخ)
۵ ـد مستر برون له قوله، چې د ایران په جغرافیه کې ورته اشاره شویده راغلی دي، چې د فیروز کوه (غور) د غره اوسیدونکي، ټول پښتانه «شنبنان، ماهویان» دي ... بار تولد دغي سیمي ته، غرج، غرش، غرچ، نومونه ورکړیدي ، ده پدې هم ټینګار کړیدی چې یادي کلمې اریایي بنه لري.
۶ ـد سرلیک په دویمه ګڼه کې مو ولیدل، چې مورګن سترن، د هیرودوت پکتویس سره مخالف دی، ولی نورو ګڼو تاریخپوهانو، لرغون پېژندونکو او ژبپوهانو د هېرودوت د څرګندونو پخلی کړیدی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مورګن سترن د یوه ستر ژبپوه په توګه، خپله د یو ژبنیز منطق ښښتن دی تر ډېره له لرغونو تاریخي توکو سره بلدیت نه لري. د ساري په توګه د سراولف کارو په څېر وايي د ابداليانو د نسب شجره ناڅرګنده او تته برېښي او د غلجيانو د روايتونو په اړه په عاميانه وجوهاتو کې د نوم په امکان خبرې کوي.
که د دواړو تېرونو روايتونه د تامل وړ وګڼو بیا نو څېړنيز مېتود هم تر پوښتنې لاندې راځي او دا ډول روايتونه سرې بې لارې کوي.
مورګن سترن او د ده په څېر د ګوتو له شمېر نه کمو لیکوالو اوژبپوهانودا ډول څرګندونې کړيدي، چې د ابداليانو نسب او تېر مجهول دی او د غجليانو له نامه سره هم اندېښنه لري.
»د مورګن سترن د لیکنو لاسوند اسلامي دايرة المعارف دی، ده په لومړي توک په ۲۱۷ مخ کې دا خبره کړېده، چې غزنوي سلطان محمود په پښتنو يرغل وکړ او هغو ته يې سزا ورکړه او دا خبره بيهقي په ډاګه کړيده.» ولې حقيقت دا دی، چې بيهقي کله هم په پښتنو باندې د غزنوی سلطان محمود د بريد خبره نده کړې.
ولې د غزنويانو د پېر يوه بل تاريخپوه عبد الجبار عتبي د سلطان محمود د يرغل پخلى کړيدی، چې په پښتنو يې بريد وکړ، خودبېهقي په تړاولاسوندسم نه دی.
د مورګن سترن دا خبره دېته پاتې کيږي لکه سراولف کارو چې د «پټانز» نومې کتاب په ۱۵۶-۱۵۵ مخونو کې کاږلي دي چې بابر کندهار ونيو خو د ابداليانو نوم يې ولې ندی اخستی .؟ په بابر نامه کې د ګڼو پښتنو نوم اخستل شوی، ولې د ډېرو ندی اخستل شوی، خو د دې خبرې مانا دا نده چې د کومو تېرونو يادونه شوي وي، هغه پښتانه دي او د کومو چې نوم ندی اخستل شوی هغه پښتانه مجهول دی.!؟ حال دا چې د بابر د لسمي جلال الدين اکبر د واک په مهال له بابر نامې نه څو لسيزې وروسته په «ايين اکبري» کې دوه ځلې د ابداليانو يادونه شوېده.» د مارګن سترن يوه بله لويه تېروتنه دا هم ده چې ده ويلي دي:
«دا څرګنده نده، چې افغانان د سليمان له غره نه، لويديځ لور ته ځومره وړاندې استوګن شوي وو؟ دی دا هم وايي له غزني نه لويديځ پلوته، هم ښکاره نده، چې د پښتون شتون په ګوته کړي؟» لومړی خبره خو دا ده، پښتانه چې د سليمان د غره په شاوخوا کې استوګن ول، د هغې سيمې اوږدوالی شپږ سوه (۶۰۰) کيلو مترو ته رسېده، چې دا يو ډېر لوی واټن دی، چې لويديځ، ختيځ، شمال او جنوب ډېرې سيمې پخپلو لمنو کې رانغاړي.
څومره چې غزني د لويديز خبره ده، له غزني پرته په ډېرو لرغونو زمانو کې د پښتنو يو لرغونی ټاټوبی غور وو، چې له زيږديزو پيړيو دمخه پښتانه په غور کې ودان ول او له دې سربيره له هرات نه تر اباسينه پورې سيمو کې پښتانه استوګن وو.
تاريخپوه غبار پخپل يوه تاريخي اثر کې ليکلي دي: «د غور سلطنتي کورنۍ سوري پښتانه وو، چې له اسلام نه دمخه د دې سيمې، سيمه ييزه پاچايان وو . » جوزجاني د خپل ګټور اثر «تعليقاتو» په لومړي توک، په ۳۲۰-۳۱۹ مخونو کې کښلي دي، «غوريان د خپل نامتو نيکه شنسب (شنسبيانيه) په نامه شهرت درلود او د حضرت علي (رض) د خلافت په مهال مسلمان شو او د غور واکمنی ته ورسيد.» منهاج السراج په طبقات ناصري کې د غور د غرونو ستاينه کوي او ډېر څېړونکی پدې ټينګار کوي، چې د غور سيمه ييزه واکمنو تر ډېره بريده سيمه ييزه واکمني درلوده او د دې ستر لامل د غور جغرافيوي جوړښت وو او غرنيزه پېچلتيا...
په روايتي توګه هم ويل شويدي، چې سوري غوريانو له اسلام نه دمخه په غور پاچاهي کړېده او پاچايي د «غرشاه» پنامه يادوو، دوئ سهاک ګڼل کېدل، چې عربو «ضحاک» بلل.
د سهاک په څېر د پښتنو نورې ځانګې په لرغونو تاريخي متونو کې هم د نوم په لړ توپير يادې شوېدي . د ساري په توګه:
«د اسپاسيaspasii ، ګوراي gurai او اساسيني assaceni قبيلې، چې د سکندر له خوا د کونړ او سوات تر مينځ سيمه کې فتح شوې وې.
سترابو اسپاسي ،هيپاسي hippasii بولي او په اوستا کې «اس» ته «اسپه «aspa وايي سترابو دغه نوم په هيپاسي ژباړلی دی. اوسني يوسفزي هم ځانونه «ايسپزی يا اسپزی (asapzai=isapzai) بولي ... د سکندر اسپاسي (اسپه زي=يوسپزی=يوسفزي، ليکوال) په باجوړ او کونړ کې اوسېدل او (ننې يوسفزي) دي ...» د سانسکرت «اسواکا»، چې په پراکريت کې «اساکا» assaka او په يوناني ليکدود کې «راسا» ليکل شويدی، په ټوله کې يو نوم دی.
په ځنو لرغونو متونو کې د «راسا» کلمه د کونړ سين ته هم کارول شوېده او په ځنو متونو کې «ورکه» کښل شويدي.
دا چې «راسا» راغلی دی، ښايي دغه نوم همغه يوناني ليکدود وي چې د «راسا» وګړي د کونړ د سين په غاړه ودان وه او ښايي ددوئ نوم د کونړ له رود سره تړاو موندلی وي.
دا چې د کونړ د قومونو او لرغونو تېرونو په تړاو څرګندونې شويدي يو لامل يې کونړ ته د سکندر تګ دی، چې د کونړ وګړي يې د «راسا» پنامه ياد کړيدی.
که چېرې سکند ر او د ده په څېر نور يرغلګر غور ته تللي وی، نوتاريخ به د غور اوغورستان ډېر تياره ګوټونه روښانه کړي وی ، ولې کومې څرګندونې، چې د يو شمېر څېړونکو له خوا شويدي، چې موږ ابن حوقل، ابن خلدون، ياقوت الحموی، حدود العالم ، اصطخري (مسالک و ممالک ) ، حمدالله مستوفي ، قزويني، بارتولد (تاريخي جغرافيه)، تاريخ سيستان، هولدچ (د هند دروازه)، معروف (غوريها و سوريها)، جوزجاني (طبقات ناصري)، طبري (تاريخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

الرسل و الملوک)، ابن اثیر، زیدان (تاریخ تمدن اسلام)، گردیزی (تاریخ گردیزي)، خوافي، میر خواند، بیهقی، فضل الله همداني، سایکس (تاریخ ایران)، نظامي عروضی سمرقندی (چهار مقاله) او په لسګونو نورد بېلګي په توګه یادولی شو، تر یوه بریده د پام وړ دی.
د افغانستان د نورو سیمو په پرتله بیا هم د لرغوني غور په اړه څېړنیزې هڅې نه دي شوې، حال دا چې «غور» لکه د افغانستان د یو شمېر نورو سیمو په څېر لرغونی ارزښت درلود.
یوه انګریز پوځي «توماس هولدچ lonel sir Thomas holdich وایي، د غور نوم په اوږدو د انسان سترګو ته یوه داسي لویه او پراخه څمکه دربږي، چي له هند نه راواخله تر ایرانه او له امو نه تر هرمز پوري غزېدلي وه.»
ګڼ شمېر لیکوال په دې خبرې ټینګار کوي، چي د غور اود غزني هېواد اوسیدونکي واکمن، د شنسب ټبر غړی وو.
«ارتولد» د یوه نامتو تاریخپوه په توګه د خپلو لرغونو څېړنو په ترڅ کي په ګوته کړېده، چي د ۱۷ مي پېړی په شاوخوا کي هغه مهال چي صفویانو ماته وخوړه په «غرجستان» کي دوه ټبرونه واک ته رسیدلي وو، یو یې غوریان او بل یې غلزیان (غرځی) یاني هوتکیان وو.
د هوتکیانو واکمني دومره پراخه شوه لکه څرنګه چي غوریان په «۱۲» مي زیږدي پېړی کي وو.» ولي له ۱۷ مي پېړی زر کاله (۱۰ پېړی) شاوخوا دمخه د« جوزجاني » د روایت له مخه امیر فولاد سوري د غور د ملک شنسب زوی د «خرنک» لمسی، د امویانو پر وړاندې د ابو مسلم په پاڅون کي، دهغه له پیاوړوملګرو څخه و.
د« همو » دځرګندونوپربنسټ امیر فولادهغه څوک وو، چي د غور، د واکمنی په وسیله یې د غورد خلکو په مینځ کي د خپل پلار نوم ژوندی ساتلی وو.
لکه څرنګه چي امیر فولاد، په (غور) کي د خپل پلار ملک شنسب د واکمنۍ دب دبه خوندی کړه، دارنګه د امیر فولاد زوی امیر کروړ، چي د پښتو ژبې نامتو شاعر وه، ده هم د خپل پلار نوم په غور کي وساته.
د سوري تاریخ (محمد ابن علي البستي) د روایت پر بنسټ، چي د امیر فولاد سوري زوی (امیر کروړ) په ۱۳۹ ه کال غور یاني په توله کي بالشتان ونیو.
دغه روایت نامتو تاریخپوه شیخ کته په «لرغوني پښتانه» کي، له «سوري تاریخه» راخستی دی. شیخ کته «سوري تاریخ» په بالشتان کي لیدلی وو.
د سیستان په تاریخ کي له بست او زمینداور سره یو ځاې د والشتان (والشتان=بالشتان) یادونه هم شوېده.
ابو الحسن علي بن زید بیهقي، چي په «ابن فندق» نامتو وو، ده هم د غور والشتان د بست یوه ناحیه ګڼلي ده، چي دا تولی سیمي په توله کي د غور د جغرافیې برخه ګڼل کېده.
د غور نامتو تاریخپوه «جوزجانی» یاني منهاج السراج هم والشتان او شاوخوا نورې سیمي د «غور» برخه ګڼي، چي په علیا او سفلی (پاس او لاندی غور) وېشل کېده.
«دامیر سوري د واک او ځواک په مهال د دې سیمي وګړي مسلمان نه وو.»
د امیر سوري واکمني کورنی تر څنګ، چي ښایي د دوئ سکني تربوران وي او په تاریخ کي دوی هم د غور واکمن ګڼل شویدي ، بنجي بن نهاران» نومېږي . (دا چي موږ د «ابن» کلمه کارو دا ځکه چي د عربي تاریخپوهانو لاسوندونه استعمال شوېدي.لیکوال) د دغه ټبر په تړاو، چي کومې څېړنې شویدي، د دغو څېړونکو په لیکنو کي یو هم «جوزجاني» دی، ده په دې اړه داسي لیکلي دي:
«بنجي بن نهاران بن درمېس بن وزن بن هین بن بهرام، بن جحش بن حسن بن ابراهیم بن معدل، بن باسد بن سداد بن ضحاک.»
که څه هم داسي انګېرني شتون لري، چي دی د امیر فولاد وراره وه، خو کله چي د ده شجره مو ولیدله یوازې د دوئ ستر نیکه شریک دی، بله داسي نښه مو ونه موندله، چي دوی دې د یوه پلار اولاده وي.!؟ دلته یوه خبره د پام وړ ده، هغه دا چي امیر فولاد د امویانو د مهال سړی وو او بنجي نهاران د عباسیانو په مهال د غور واکمن شو او دی هم لکه د شنسب په څېر (هغه حضرت علي ته ورغی وو) دی د بغداد خلیفه هارون الرشید ته ورغی او د غور حکومت یې وروسپاره.
لکه څرنګه چي د شنسب او یا د امیر فولاد په اړه لاسوندونه شتون لري او ډېرو څېړونکو په غور کي سوریانو د واک او ځواک په اړه څرګندوني کړیدي، دومره د «بنجي بن نهاران» په تړاو څېړني په واک کي نشته.
د ډاکټر اصغر فروغي ابري، په دې اند دي، چي: « د بنجي نهاران په اړه، چي څومره یې په غور حکومت وکړ همدارنګه د لیږدي دویمي نیمه یې پېړی په شاوخوا کي د غور واکمن وو او ان د سوري بن محمد، یاني د د ریمي لیږدي پېړی تر لومړئ نیمایي پورې، د غور د حکمرانانو په اړه بشپړ معلومات په واک کي نشته او د جوزجاني په قول کولی شو، چي ووایو، ښایي د ده یوه اویا دوه زامنو په دغه مهال په غور حکومت کړی وي او تر ډېره بریده به د بغداد د خلیفه ګانو تر امر لاندې وو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ